

# نوی ژوند

## ناول

لیکوال: عزیراحمد سعید

Ketabton.com

اوله برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوی ژوند

ناول

MAY 29, 2023

لیکوال: عزیراحمد سعید
ozairsaeedsaeed@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوله برخه؛

نن د 2004 کال د ډیسمبر میاشت 12 تاریخ دی د ورځی شاوخوا پاوکم څلور بجې دي ، یخ زیات دی خو مورږ د موټر هنداري پورته کړی دي .
زه د خپلو زړوو چورتونو سره و کوټې ته ولاړم ، په کم ځای کي چي زمورږ کورنی د تیرو لسو کلونو راهیسي د مهاجرت شپي سبا کولي ، تقریبآ د نیم افغانستان هغه خلګ چي وس یي درلودی د مجاهدینو دخپل منځي جنګونو له امله مهاجر سوي وه ، زمورږ کورنی هم ددغو مهاجرو کورنیو څخه یوه وه. ها دغه دی را ورسیدلو د موټر وان سره مو د کوټې دشار څخه بیا تر خپل کلي پوري خبره کړي وه ، خو موټر وان سنګه چي یي ویلي وه هغسي یي ونه کړه ، موټر یي دباذر ها خوا ته ودروی ، زما پلار ورته خپله خبره یاده کړه چي مورږ باید تر کلي ورسوي خو موټروان به ویل چي اوس په افغانستان کې نوی حکومت راغلی ،اوس مورږ موټروانان نه شو کولی چي چي موټر تر پولي ها خوا ته یعني

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان ته بي له کوم سند څخه واړوو،خیر جنجال اوږد سوو یو سه وخت یي ونیوی ، وروسته فیصله وسوه کار خلاص سوو نو موږ یوه رخشه دباډر تر بلي غاړي کرایه کړه هلته چي ورسیدو رخشه وان ویل چي ستاسو بخت کار کوي چي هوا یخه ده او باد نشته کني په دوړو کي به مو ځان نه پیژندلی .د موټروان سره تر خپل کلي چي دکندهار په ډنډ ولسوالۍ کي وو خبره خلاصه کړه دادی روان سولو، موږ تیر لس کاله افغانستان نه وو لیدلی خو کم خپلوان چي به مو راتلل د افغانستان په اړه یي ډیر عجبه خبري کولي چا به داسي فکر کوی چي هلته که ناولده کس ولاړ سي نو نور به یي سرته آمان نه وي ځکه چي طالبانو به خلګ په زور سره دکورونو څخه ایستل چي و د پنجشېر وجنګ ته ورسره ولاړ سي په خلګو به یي د ورځي یو لمونځ سوو واری کوي که به چا ژره خرولي وه هغه به یي واږه وهي به یي چي د خلقي زوو داسي نور ډیر ظلمونه یي اسلام په نامه په خلګو کول چي راوړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



يي دلته ناشوني دي ، خو اوس چي موږ په کم خاطر و خپل ګران افغانستان ته مخه کړي وه په دي خاطر چي نور به هلته ظلمونه نه کيږي ،اوس يو نوی حکومت د حامد کرزي تر مشری لاندی او امريکايانو په کومک را منځته شوي وو، تقريباً يونيم کال يي کيدی چي طالبانو امارت ته يي ماته ورکړي وه او پر ځای يی د افغانستان اسلامي جمهوري دولت رامنځته شوی وو موږ کله تلولو ايراده وکړه چي افغانستان ته به ځوو نو زښته ډير خوشحاله سوو ځکه هلته په پاکستان کي د افغانستان مهاجر به خپلو ځينو پشتنو ډير د مهاجرينو په نامه زورول رقم رقم تکليفونه به يي ورته پيش کول خو چي هر رقم بي خپل هيواد زياته خوشحالې لري موږ هم و ماښام ته خپل کلي کور ته ورسيدو زما پلار او زه ماخوستن دکلي جومات ته ولاړوو هلته مو د لمانځه ځخه وروسته د کلي دخلګوو سره زياتره يي ما نه پيژندل روغ بړوکی ډيرو کليوالو راته دکور دتلولو وويل چي تاسي ټول کور به نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه زما کره کوی اخیر زموږ د اکا و کور ته چي زموږ کور ته یي نږدي کور وو ولاړوو هلته یي موږ ډیره شه ډوډی تیاره کړي وه د ډوډی وروسته ماته خوب راتلی خو د اکا زامنو چي احمد او حسن یي زما د کوچنیوالي انډیوالان هم وه خو ب ته نه پریشولم ماته به یي ویل چي دلاري کیسي وکه چا خو به نه یاست په تکلیف کړی په کوټه کي فلانکی فلانکی شه وه ځکه دوی زموږ تر راتګ یو کال تر مخه راغلي وه، نو هلته یي ډیر هلکوان چي ور سره انډیوالي وه پیژندل د ډیر تکلیف وروسته یي ماته اجازه راکړه چي بیده سم .د کلي دهغه اولی شپي د جومات خوند ما په تیرو لسو کالو کي په پاکستان کي نه وو لیدلی ډیر زیات خوند کوي دکلي ارامه فضا کي د ماخستن جومات...... زه خو یي خوند دلته نه سم بیانولی خیر شپه ډیر ژر تیره سوه دسهار د جومات دپاره راباندي مور ږغ وکی خو زما سره دپاکستان عادت لا هم راسره وو نه سوم ولاړ دوي دقیقي نه وي تیري چي داکا زامن مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغله او په زوره یي ورسره ولاړ کړم زه نو چیري
تلم خو ددوی دومره شوخي وه چي زه یي په ډیري
شوخي مجبوره کړم چي ورسره ولاړ سم په جومات
کي مي اودس تازه کی او لمونځ مو په جومات سره
وکی د جومات وروسته خلګ سره مي روغبړوکی
داهغه خلګ وه چي ماخستن لمانځه ته نه وه راغلي
د روغبړوروسته زما کور ته نیت وو چي کورته
ولاړ سم خو احمد ته مي پام سوو چي لاهم ناست
دی زه ورغلم او کرار مي ورته وویل چي راځي
کورته هغه وخندل ویي ویل چي دا پاکستان نه دی
دلته دلمانځه وروسته مولا صاحب. را ته درس وایي
نو زه یي هم ورسره کشینولم یو پنځه دقیقي ورسته
مولا صاحب راغلی او درس یي شروع کړی درس
یي هریوه ته په نوبت سره وایه اخیر نوبت ماته
ودریدی مولا صاحب ماته وکتل اوویي ویل مسافره
دخیره سره سبق ته بیا داسي ژر راغلي د مولا
صاحب دا خبري ډیری را باندي شه ولګیدي زه ور
مخته سوم د مولا صاحب سره مي تر اوسه روغبړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وو کړی نو دهغه سره تر روغبړ ورسته خبري وکړي چي زه باید سبق د کم ځای څخه شروع کړم موږ ته یواځي په کور کي پلار لمونځ راشولی وو نو مولا صاحب راته دا مشوره راکړه چي ته به قرآن شریف او شروط صلاط شروع کړي زما ورسره خوشه سول که څه هم زه په عمر کي تر نورو هغو هلکانو غټ وم چاچي هلته شروط صلاط یا هم قرآن شریف وایي خو د مجبوریت په خاطر مي ورسره ومنل بس نو په هغه اوله ورځ مي سبق شروع کړل ،د سبق څخه وروسته کورته راغلم ډیر زیات خوشحاله وم ځکه چي یو خو خپل هیواد ته راغلي وو او بل د خپلو ډیروو خپلوانو سر یو ځای سوی وو په تیره بیا د حسن او احمد سره چي ډیر زیات راباندي ګران وه . په پاکستان کې موږ دوکانداري کول غټه د خوراکي. شیانو مغازه مو درلودله ډیر شه کاروبار مو وو.سهار به وه دوکان تلو او ماښام به کورته راتلوو .کله چي په افغانستان کې د حامد کرزي حکومت راغلی نو موږ یو سوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتي وروسته مشوره سره وکړه چي نور باید و خپل هیواد ته وګرځوو اخیر فیصله داسول چي زما پلار باید دلي پاته سي تر څو د دوکانداري ټوله سامان پورونه او داسي نور شیان چي دلته یي موږ لرو هغه باید خرڅ کړي او اکاګان مو باید اوس ولاړ سي ځکه زموږ کار په افغانستان کې زمینداري وه هغوی باید هلته دباغونو او باغچوو لپاره افغانستان ته ولاړ سئ په یوه کال کي موږ کم کارونه چي مو په پاکستان کي وه هغه مو خلاص کړه نو موږ هم دا یو وخپل هیواد ته راستانه سولو. یوه هفته مي د کلي کي شه په میلو تیره کړه دهغه وروسته راته پلار چي زما داکاګانو مشر ورور وو دهغه په خبره باید ښار ته د خپلو داکا دزامنو سره مکتب ته ولاړ سوو زما عمر د اوولس کاله وو دوه داکا زامن مي احمد او حسن د شپاړلس او پنځلس کلو وه خو زما سره همځولي معلومول نو عمرونه مو ډیر زیات وه خو په مکتبونو یي داسي سیستم را منځته کړی وو چي هلته دلوړو عمرو هلکان باید سواده زدکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولګي دمکتب تر سنګ ورسره ووايي موږ دري
واړه يي په نهم ټولګي کي کشينولو درسونه راته ډير
زيات سخت وه خو کم دسواد زدکړي ټولګي چي وه
هغو راسره ډير کومک وکی ډير شيان ورڅخه زده
کړل موږ بيخي خط نه شوای ليکی خو دډير
کوششونو وروسته مو ډير درسونه زدکړي په نهم
ټولګي کي مو شه نومري نه کړلي تر لاسه خو په
لسم ټولګي نور زموږ په رقم تکړه زده کونکي نه
وه . کله چي به دمکتب څخه کورته راغلو نو بيا به
و باغونو ته تللو دهغه ځای څخه به مو و غواوو ته
وابنه راوړل خو ډير وخت به دکلي له هلکانو سره
پر ساعت تيري تيريدی ډير خوشحاله وو د کلي
دهلکوان سره يو ځای مکتب يو ځای ساعت تيري
ډير ښه خوند کوي په دي کي دري کاله تير سول
بيخي په پو هيدلی نه يم چي سنګه تير سول ټول وخت
په خنداکانو کي را باندي تير سوو يوه مياشت
دکانکور وامتيحان ته پاته ټول ډير وارخطا وه خو
موږ زه ،احمد،حسن،خيروو،بلال يي هيڅ په کيسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي نه وو ځکه موږ دولسم ټولګي کي تر ټوله مکتب تکړه زده کونکي وو امتحان مو ورکی اوس يي نو و نتيجو ته معطله وو موږ پينځو واړو سره ويلي وه چي ټوله به طب ته ځان انتخاب کوو خو نتيجي چي راووتلي زه او احمد و طب ته کامیابه سوي وو او نور ټوله ناکامه سوي وه ډير زيات مو ارمان سوه ځکه چي دوی ټوله انتخابونه دطب دا ورکړي وه . دري مياشتي وروسته پوهنتون شروع کيدی زه او احمد ډير ورته خوشحاله وو ځکه زموږ په کورنی کی تر اوسه چا مکتب لا نه وو خلاص کړی طب ته کامیابي نو ليري خبره وه ، دکورني دشي پاملرني د خاطره موږ ښي پوهنځی ته کامياب سوی وو........ 2008 کال په خلاص کيدو وو زموږ په کلي کي ځای ځای طالبان پيداشوي وه هر وخت به ټکانو غږونه زموږ تر کوره هم راتلل خو موږ سر نه په ګرځاوه, د اکتوبر مياشت دريم تاريخ وو زه د خپلي ترور(امه) کره چي کور يي په ښار کي وو په يوه کار پسي تللی وم هلته رابادي ډير ناوخته سوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو مي ترور راته دشپي کولو وويل چي خامخا به
ډلي پاتې کيږي لاري خطرې دي چي تر کوره
پوري ځي نه سي تلای په هغه شپه زما زړه ډير
غوښتي تر ځو کلي ته ولاړ سم خو دامه دي جواب
پاته کړم ځکه امه مي راباندي ډيره ګرانه وه تر
خاطر يي نه شوای تيري دلی زموږ کلي د ښار څخه
تقريبا پينځه کيلومتره ليري وو، دامه کره ټلويزون
ته ناست وم چي خبرو کي يي زموږ پر کلي دطالبانو
دحملي يادونه وکړه او دسخت جنګ ددوام خبره يي
وکړه ،خدای سته زړه مي ډير ناآرامه وو چي زه
بايد تللي وای خو اوس ښپه پخه سوی وه که تللي
واي بيا پلار راته خوشکه کول چي په دی شپه ولي
راتللي خو شپه چي هر رقم وه تيره سوه د شپي مي
ډير خراب خوبونه هم ليدل سهار د چای څښلو
وروسته و امه ته مي دپلار ټليفون راغلی امه ور
سره په خبرو لګيا وه دايي ورته وويل چي وو شفيق
برايي دلي وو ديو دوو خبروو وروسته ولاړه سول
په يوه بله خونه کي خبري ورسره شروع کړي تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شه کړی وروسته راغله ماته يي ويل چي بنه وسوه
چي ته ماخستن نه يي تللی په لاره کي چي طالبانو
هر ځوک ليدل ويشتل يي ستاسي پر کلي حکومت
بمبار کړی دی ما چي دا خبري واوريدلي دستي مي
پټو راواخستی نيت مي وو چي کورته ولاړسم خو
امه مي راته ويل چي زمري ويل دی تر هغو هلته
ستاسی کره وي تر ځو يا موږ خپله در نه سوو يا
خبر در نه کړوو ،د امه دخبرو سربيره بيا هم ما ور
ته ټينګار وکی چي زه بايد ولاړ سم خو دامه دزامنو
او امه مي ډير ټينګار راته وکی چي ته نه سي تلی
که ته ولاړ سئ موږ به وزمري ته چي زما
(پلار)وو څه جواب ورکوو ولاړم ټلويزون مي
ولګوی هيواد ټلويزون کي د سهار خپرونه شروع
وه عجبه بي اتفاقه هيواد مو دی هلته جنګ روان
خلګ شهيدان سوي خلګ مړه وه دلته په ټلويزون
کي دوی خپلي خنداوي کولي د ټلويزون د بحرين په
لاندي برخه کي په روان خط کي يي دجنګ
ريفورټ ورکوی په هغه کي د جنګ دوام ويلي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر ناکراره وم تر ټولو مي زیات مور او کوچنی خور ارمان وه چي هغه به په دا جنګ کي چیري وه ولي چي مور ناروغه وه او کوچنی خور مي دټکانو څخه زیاته ویریدل چي کله به په کلي ټکان زیات نږدي سول نو زما کوچنی خور به زما په بغل کي پټه سول دغه ورځ دلته نه راباندي تیریدله ماخستن سوو بیا یي هم امه ایجازه نه راکوله چي وکولي ته ولاړ سم شپه مي تیره کړه سهار وختي دودمولایانو اذانونه وه چي دامه کور څخه په غلا راووتلم یواځي وم نه مي بایسکل راسره وو او نه موټرسایکل پر پښو وکولي ته روان سوم تر ټولو مي ځان ډیر ملامت کوی چي ولي په هغه ورځ دامه کره تللي رقم رقم فکرونه مي و فکر ته راتلل لاره مي پخوا هم پر پښو وهلي وه خو دومره نه اوږده سوي اوس چي هرڅه تلم لار نوره هم پاته وه خو خیر دسهار لمر راختی چي کلي ته ورسیدم خپل کلي مي نه پیږندی هغه کلی چي دوي ورځي دمخه خني تللی وم پر بل حال وو پر لا ګام په ګام د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان ملی اردو ولاړوه عسکر هم ولاړ وه هر ځای به تلاشۍ شروع وي کورونو ټوله نړیدلي وه د باغو درختی یي چپه کي وي هغه لشتیان چي خلګو به باغو ته اوبه پکي بیولو ټوله نړیدلي وه ځای ځای اوس هم ټکان شروع وه زموږ کور د کلي په پای کي وو دهدیري سره د ټول کلي خلګ ولاړ وه زه هم ورغلم دوه تنه کلي وال شهیدان سوي وه د هغو هدیره روان وه قبرونه یي ورته کشل یو کلیوال زما څخه پشتنه وکړه چي ته څنګه دکوره راوتلی یی ماورته وویل چي زه دادوي ورځي د امه په کور کي وم اوس راغلم ولي زموږ په کور سه سوي دي هغه راته وویل چي ستاسي په کور کي د طالبانو هوانونه وموشتل اوس هم ستاسي پر کور اوشاوخوا یي ډیر جنګ روان دی په بیړه ددڅخه روان سولم د. کورپه طرف په لاره کي یي زموږ دهمسایه دکور دوي جنازي راخستي وي خو زه ټولو څخه تیر سولم تر څو دکور په حال ځان خبر کړم په لاره کي ټانګونه ولاړ وه او زموږ دکور په طرف یي ټکان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول ځکه هلته جنګ روان وو زه يي نه پريشولم
چي هلته ولاړ سم زما دډيرو سرزوريو د کبله يي
زه دوي چکي چي زموږ دکلي په پوسته کي عسکر
وو ويي وهلم اخير نا هيلی سوم د پټی لاړي دتګ
اراده مي سول تر څو په پټه لار وکورته ځان
ورسوم خو په هر ځای عسکر او ملي اردو ولاړ وه
اه خدايه اوس سه وکړم، ددي خبري سره مي وه يوه
باغ ته پام سوو دهغه يو ديوال نيم نړيدلي وو پرهغه
په زحمت سره ورواشتم دا سي احساس مي درلودی
چي بيخي به دلته هيڅ شی نه وي پاته په فکري کي
ډوب پټ پټ ديوه باغ څخه بل ته د بل څخه بل ته
روان وم ، اوس زموږ کور که درختی نه وای سم
معلوميدای چي په دي وخت کي دشاه له طرف څخه
ددريش زه راباندي وکی زه هم چي ډير بيريدلې وم
ودريدلم دوه دملی اوردو عسکر راغله زما لاسونه
يي شاته راوتړل چي ما اوس ورته خوله سمول دشاه
لخوا يي په يوه ښي ووهلم بيسده سوم نور په ځان
نه يم پوهيدلی .......سترګي چي مي روښي کړلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه عسکري موټر کي په داسي حال کي چي
لاسونه مي لا هم هغسي تړلي دي ناست یم دباندي
ښځه ټکانو او مخابرو ږغونه راځي په فکر کي خپل
کور راوګرځید ناري مي کړي خو چا سر نه کی
خلاص یادوي دقیقي بعد دملي اوردو یو افسر دموټر
دروازه خلاصه کړه د خلاصیدو سره سم راپورته
سوو زه یي تر ګریوان ونیولم چي چیري دي نور
انډیوالان پټ دي ماورته وویل چي زه په هیڅ شي
نه یم خبر ددي سره دوي دري چکی په مخ ووهلم
و موټر یو بل عسکر راپورته شو هغه زما دلیدوو
سره سم وویل چي دا خو کلیوال دی دا زه پیژنم
قوماندان صاحب دا نه بجي شاوخوا موږ ته یي ویل
چي ما ټکور خواته پریږدی موږ ایجازه نه ورکول
دغه عسکر چي زموږ د کلي دپوستې وو خبري یي
پر دغه ځای بس کړی دده دخبرو په دوام ما نوره
کیسه ورته زړه نازړه وکړه بیا قومندان و عسکر ته
مخ واړوي چي ته دی سم پیژني هغه ویل هو داده
زمری زوی دی ټوله کور یي زه پیژنم ،وروسته یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دملي اردو عسکر راغلی اوزما لاسونه يي
راخلاص کړه او اخطار يي راکړی که بيا وهغي
خواته تللی وی بيادی نه پريږدوو خو ورته دخپل
کور کيسه وکړه چي ددوو ورځو راهيسي يي درک
نسته خو هغو نه منل اخير ناچاره سولم دلوړ کلي په
طرف ولاړم هلته مي ديو کلي وال څخه ټليفون
واخيستې چي پلار ته زنګ ووهه خو زنګ ورځي
او وکي کوي يي نه ژړا راغله نور مي طاقط نه
کيدی بيا په نور حال نه يم خبر سوی بيسده سوی
وم چي راپورته سوم ديو کليوال په کور کي پروت
وم ماخستن وو ،کليوال ويل چي جنګ دمابنام
رهيستي ولاړ دی طالبان يي پسي اخستی دی کلی
ټول تر هغه بل کلي يي ټول نيولی دی ما دتلو کوشش
وکړی خو پښه درنه وه نه راسره تلله ورته ومي
وکتل ټپي سوی وم کليوال ويل چي دخدای فضل
وسوو چي امبولانس چي ما او تا ولاړوو هلته نږدی
تيريدی چي ته ټپي سولې هغه ته مو ور پورته کړلي
بيا مو شفاخاني ته بوتلي هلته هم په سد کي رانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی موږ وارخطا وو خو ډاکټرانو ویل چي جوړ دی ډېر تشویش یي کړی نو ځکه کیداشي. تر یو څه وخته لابیسده وي ، د کلیوال خبري چي خلاصي سولي ماورته وویل چي زما دکور کوم خبر نه شوو معلوم د نه جواب یي راکړی نور مي هم فکر خراب سوو پسي مي تر یو څه وخته درد نه کوی خو وروسته یي درد شروع کړی زیات درد واخستی کلیوال هم تللی وو شه شو چي ډاکټر یو څو پاکټه ده درد ګولی هم راکړي وی دهغه په خوړلو سره مي یو څه درد سم سو نور نور نو بیده سوی وم سهار چي راکشینستلم ولاړیدلای نه سولم زړه مي ډېر راته لږ سوو ځکه هغه خلګ به راته پیاد سول چي پشي یي نه یي هغه به سه رقم په تکلیف وي تر مازیګره کلیوال یو دوه واری راغلی د کور پوشتنه چي به مي هر واري ورڅخه کول دنه جواب یي راکوی اخیر مي سر په خلاص سوو چي یو څه راڅخه پټ کوي خیر شپه شوه قربان مي وروستني ته راغلل یو ویل زموږ کره به ولاړ سي بل ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ کره به ولاړ سئ ،زما دکور خبره یو هم نه
کول چي دکور معلومات راکی ماورته وویل چي
زما دکور معلومات خو راکی چي دکوره مي کم
خبر سته که نه ټولو یو بل ته وکتل په منځ کي یي
یوه چپتیا ماته کړه ویل شکر ټول جوړ دي ماورته
وویل نو په ما نه دي خبر چي نه راځي بیا یي یوه
او بل ته وکتل خو سه یي ونه ویل ما ته شک راپیدا
سو چي ولا یو خبره خو سته چیغي مي کړي. زما
په چغو نو څه کیدل په یو رقم سهار سوو تر سهاره
مي خوب ونه کی ډیر زیات وارخطا وم ډیر بیریدلې
وم رقم رقم فکرونه مي کول سهار ته مي پښه
دغونده سمه سوي وه چي یو څه تګ پر وکمه ولاړم
اودس مي وکی لمنځ مي وکي کلیوال مي موټر
راوستی په هغه کي یي کشینولم ما به چي پښتنه
ورڅخه وکړه چي چیری ځوو خو دوی هیڅ هم نه
ویل موټر یي دهدیري خواته روان کړی هلته چي
ورسیدو نور مي نو وه زړه ته ولویده چي یو څه
خامخا پیش سوي دي زړه می طاقت نه کوی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوړو يي ونيولم او دقبرو ويوه سرته چيري چي خلګ جمعه وه بوتلم يو څو تابوتونه پراته وه خلګو ټولو ماته کتل داول تابوت سر يي هيڅته کړی په تابوت کي يو څوک وو زه شه ورتيږدي سوم ورته کشينستم د کفن مي يي دمخ څخه ايسته کړی که ګورم هغه پلار وو نور بيسده سوی وم او په ځان نه يم پوهيدلی.

په هغه جنګ کي زما دکورنی ټول غړي شهيدان سوي ول زه يواځي په دي دنيا کي خدای غوښتی وم يواځي پاته سوم ډير زور غواړي چي يو څوک دکورني ټول غړي په يوه ورځ دلاسه ورکوي په ما باندي ډير وخت په سختی تيريدو .د هديري او فاتحي د خلاصيدو وروسته زما امه چي وه هغو زه خپل کور ته بوتلم ما چي هرڅه دخپل کور په اړه ورته وويل چي زه په هغه کي بايد واوسم هغه زما کور دی که زما پلار نسته زه بايد دخپل پلار په ځای هغه کارونه وکم چي زما پلار کول ، خو هغو چيري منل چي زه دي په کور کي يواځي واوسم ،وخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورته يي بوتلم دهلته اوسيدو يي راته وويل چي نور به دلته اوسيږي . ما هم چي کمه چاره نه درلوده زړه نا زړه مي ورسره ومنل . دکورنی غم ډير ځورولی وم هيڅ شی خوند نه راکوی درسوو خوند نه راکوی په هيڅ شي مي وخت نه تيريدی په دی مهال کي يوه مياشت تيره سول ، په کور که به مي امه تسلي راکوله چي خدای به يي خير کي دخدای ج دغه رقم خوښه وه نور داسي خبري به ئي راته کولي ما هم چي بله چاره نه در لوده وپوهنتون ته ولاړم خو د س هغسي لکه وختي چي يي خوند کوی اوس يي خوند هغسي نه کوي خو بيا هم مجبوره وم بايد چي تللی وای تلم درس مي وايه زما امه ته دي خدای خير ورکي که دهغي زحمت زما سره نه وايی زه به هم اوس دلته په دغه مقام نه وايی .

د سهار له خوا به مي پوهنتون وايه او ماسپښين لخوا به مي په يوه دواخانه کي کار کاوه په دغه رقم به مي ورځ تيريدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس ژوند وو تیریدی هره ورځ به په پوهنتون کي د
یوه نوي درس سره مخ کیدلم ،که یوه چا دطب
پوهنځی ویلی وي نو بیا هغه ته معلو میږي چي
څونده سخت دی دډاکټری درسونه ورځي او شپي
سباه کیدي په دغه وخت کي پنځه کاله تیر سول خو
لا اوس مي هم دکورنی یادونو ځورولم ډیر به
مایوسه سولم چي هغه دکورنی په سنګ کي ژوند
او اوس دهغو بغیر ژوند سومره فرق لري د
پوهنتون مي شیږم کال په شروع کیدو وو چي زموږ
و پوهنځی ته د ترکیي بورسونه راغلل هر چا
کوشش کاوه چي ورته کامیابه سي ما هم په خپل
ځای کي ددي غوښتونکي وم چي زه هم ورته
کامیابه سم هغه وو چي دامتحان دنتیچي وروسته
معلومه سوه چي زه هم پدغه امتحان کي کامیاب
سوی وم ډیر زیات خوشحاله سوم په تیر پنځه کاله
کي مي بیله درده هیڅ خوشحالي نه وه لیدلي نن په
اول ځل ډیر خوشحاله سوی وم ولاړم دانه کورته
چي اوس زما کور هم ورته ویلای سوو امه ته مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دترکيي وويل چي زه به دخيره سره په روانو دوو مياشتو کي و ترکيي ته ولاړ سم هغه هم ډيره خوشحاله سول دامه ټوله کورنی په دي خبر ډير خوشحاله سول ټولو راته په خپل وار مبارکي راکړه ، ولا ړم و خپل کلي ته کم مو مځکي او باغونه چي تر اوسه يي ما کار کاوه نور مي ورته په کلي کي يو منشي ونيوی هغه ته مي د مياشتي ۱۵۰۰۰ افغانی تنخاه وټاکله نور به هغه زما دټولو مځکو او باغونو څارنه کوي او په ډول به يي روزي هغه يو دباور کس وو زه هم دده سره په کار خوشحاله وم ځکه دی په کلي کي يو دامانت داره خلګو څخه وو .

په دا سبا زه ولاړم د پاسپورټ په جوړولو پسي تر اوسه ما پاسپورټ نه در لودی هلته دپاسپورټو په کارځای کی زما يو ملګری وو دهغه په واسطه يي راته په دوو هفتو کي پاسپورټ راکی نور مي نو پقط د تلو ورځي ته انتظار کاوه د تلو دورځي څخه دمخه يو ورځ د کورنی وړيا ت ته ولاړم ډير مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وژړل ټوله ورځ مي هلته ورسره تیره کړه ماښام ولاړم دانه کره هغي راته دتلو بکس راته تیار کړی وو کور یي ودان ډیر زحمت یي کښلی وو سبا په لس بجي موږ باید هوایي میدان ته ځان رسولی وای ځکه دهغه ځای څخه کابل ته او دکابل څخه و ترکیي ته میو سفر درلودی موږ دکندهار څخه لس کسان وو دکابل ولایت څخه یي هم لس کسان نیولي وو ټول هلته و ترکیي ته شل کسان تللو ماخستن نه (۹) بجي وي چي دا ترکیي د عنکري په هوایي میدان کي کشته سوو دهغه ځای څخه په بس کي خپلي لیلیې ته ولاړو زموږ لیلیه ډیر یو په زړه پوري ځای وو په هر وطاق د دوو نفرو لپاره وو کله چي په وطاقو کي ځای په ځای سولو نو زموږ منیجر راته یو سه اندازه پیسي ډوډی او نور داړتیا وړ شیان یي راته راوړل وکم بورس ته چي موږ کامیابه سوي وو په دي کي ټوله مصرف دترکیي دولت کوی موږ دهرڅه څخه خلاص وو په سبا یي راته دسیاحت وویل چي تر دروو ورځو تاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای سي چي دباندي و میلو ته ولاړ سی موږ هم دباندي و میلو ته ولاړوو ډیر ساعت مو تیر سوو ډیر امکانات یي راته اماده کړي وه ټول ډیر خوشحاله وه ځکه کم کوشش چي یي په درسونو کي کړی وو بي ځایه نه وو ددریو ورځو پس یي راته د ترکی او انګلیسي ژبو تدریس شروع کړ دا تدریس په دوو میاشتو کې خلاصیدو دوي میاشتي بعد موږ په ترکی او انګلیسي ژبو ښه خبري کولای شوای موږ دطب پوهنځي پنځه کاله په افغانستان کې ویلي وه خو دوی زموږ درسونه دتر کیي په نساب برابر له سر څخه را شروع کړل موږ ترکانو سره یو ځای درسونه ویل هغوی په اول سر کي تکړه وه ځکه دا درس دهغو په خپل ژبه وو خو وروسته په موږ افغانانو کي هم داسي سوک پیدا سول چي شي نمري ترلاسه کي موږ دلته ي موږ ته عمومي طب دوه کاله وایه دهغه وروسته هر چا کولاسوای چي خپل دخوښي بخش انتخاب کړئ دوه کاله وروسته زه جراحی څانګي ته کامیابه سي چي ډیر یي دصنفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیت ،کورني فعالیت و نومرو ته ضرورت درلودي زما ځیني ملګرو خپل ډیر وخت یي په عبس شیانو تیروي خو ما ددي په ځای درسونه ویل ډیر زیات کوشش مي کوی تر څو په شه نمرو کامیابه سم همدغه و چي زه یي وجراحي ته انتخاب کړم د جراحی دڅانګي په اول کال په شروع کي ځني زما سره راغلي افغانان د لیلیی څخه وتښتیدل دوی غوښتل چي د ددی ځای څخه وتشتي او بیا اروپا ته په قاچاقي لاره ولاړ سي ځیني وروسته د کله چي مور خبر سو په خپل فلان کي کامیابه سوي وه خو ځني یي د نیولو سره و افغانستان ته واستول خپل شه چانس یي دلاسه ورکی نور یي په هیڅ وخت کي نه شوای کولای چي و ترکیي ته د درس لپاره ولاړ سي مور کوم افغانان چي پاته وو ددوی په دي کار سره ډیر په تنګ سولو ډیر مو ورته خوا بده سول ځکه په دي کار سره دټولو افغانانو رنګ بد کیږي نوم یي خرابیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خپلو درسونو ته ادامه ورکړه په خپلو درسونو لګیا وم ، یوه ورځ په پوهنتون کې ناست وم یوه نوي محصل چي انجلی وه راغله او زما په څنګ کي کشینسته په ترکیه کي وښځو ته هر ډول ازادی سته دوی هر رقم چي یي زړه وي هغه رقم ګرځیدلی سي خو کمه انجلی چي نن نوي راغلي وه حجاب یي مراعات کړي وو هغي کوي توري سترګي کوچنی خوله او مخ په هغه اول واري زما په زړه تاسي وکي زه یي په اول دیدن په خپلو منګلو کي ټینګ کړم ، دا چي هم کله راغله ماته یي داسي وکتل چي ما او دا دډیر وخت سره پيژنو کله چي مي په څنګ کي پر بله چوکی کشینستله ما ته یي سلام ووایه ما سلام ته وعلیکم سلام وویل هغي اول زما څخه دنامه پشتنه وکړل ما ورته خپل نوم ووایه هغه چي دخبرو څخه ډیره چالاکه معلومیده خپل نوم یي هم راته ووایه تر اوسه مي هغه داول دیدن سختته په زړه اور بل کي هڅي خپل نوم راته فاطمه وښودل دا نوم نور زما په زړه ولیکل سوو فاطمه زما څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهیواد پښتنه وکړل ما ورته وویل چي د افغانستان
څخه یم ښه یي په زیر زیر راته وکتل او ویي ویل
ته بیخي زموژ په رقم ترکیي ژبه وایي څوک نه در
باندي پوهیږي چي دا اوس ستا مورنی ژبه ده که
دو همه په اوله ورځ مي ورسره ډیري خبري وکړی
هغه اصلي د استنبول دښار څخه وه دلته یي د
عنکري په پوهنتون کې درس ویل خوښ وو نو په
دغه خاطر دلته راغلي وه زه چي و لیلیې ته ولاړم
ملګرو مي راته ویل چي نن سه پیشه ده چي داسي
خوشحاله یي ماورته دهیڅ ځواب ورکړی چي هیڅ
هم نشته خو زما یو ملګری چي حامد وو د کابل
څخه وو زما او دهغه نو ډیره ښه اندیوالي په ترکیه
کي جوړه سوي وه حامد په دغه خاطر زه ډیر
مجبوره کړم چي ورته کیسه وکړم نو ما هم ورته
کیسه وکړه هغه راته وویل چي دلته دا کیسي پیاده
نه کوي داسي دی او داسي دی خو ما چیري منل
چي که افغانستان ته هم ولاړ سم بیابه په شخصي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مصرف ورته راځم دلته زما دميني کيسه شروع سوله .................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اولی برخی

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**